



## سید بهاؤالدین مجروح:

دی هغه نوموتی او پیاوړی فیلسوف، تکړه شاعر او ادیب، پېژندل شوی لیکوال، دیپلومات او سیاست پوه وو، چې د فبروري میاشتې په (۱۲)مه، پر (۱۹۲۸)زېږدیز کال د کونړ ولایت، د «اسمار» په ولسوالۍ د «شینکوړک» په کلي کې په یوې روحاني کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي. نوموړی د لوی عالم، شاعر او ادیب سید شمس الدین مجروح زوی وو، چې لومړنۍ زده کړې یې په کنړ کې د «شینکوړک» د کلي په جومات کې پیل او سر ته رسولې دي. له څو مودې وروسته د خپل پلار سره کابل ته ولاړو او د (۱۳) کلنۍ په عمر یې د استقلال په لېسه کې په څلورم ټولګي کې خپلې زده کړې ته دوام ورکړ. پر(۱۹۵۰) زېږي کال یې د استقلال په لیسه کې خپلې زده کړې تر سره کړې او د لوړو زده کړو لپاره فرانسې ته ولاړ. ده خپلې لوړې زده کړې د (۱۹۵۲)ز کال تر (۱۹۵۸) ز کال پورې د پاریس په «سوربن» او بیا د «مونټ پلیه» په پوهنتون کې د ساپوهنې (روحیاتو) او فلسفې په څانګه کې د لیسانس او ماستری تر درجې پورې پای ته ورسولې او دوکتورا یې وروسته په المان کې د هیګل په فلسفه کې ترلاسه کړه. په همدې دوره کې وتوانېدو، چې د «الماني ا و انګرېزي» ژبو ادبیات په «غربي المان او انګلستان» کې سرته ورسوي. هغه نه یوازې د پښتو او فارسې ژبو شاعر وو، بلکې په فرانسوي، جرمني او انګلیسي ژبو یې هم خبري کولی شوی.

کله چې سید بهاؤالدین مجروح پر (۱۹۵۸)ز کال کې خپل هېواد ته راستون شو نو په همدغه کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي ښوونکی او د فلسفې ښوونه او تدریس یې پیل کړ. وروسته بیا د پوهنتون د رییس په توګه وګمارل شو. پوهاند مجروح خپل ټول ژوند د پوهې په چوپړ او خدمت کې تېر کړ. دی د خپل عصر هغه نوښتګر او لوی عالم شخصیت وو، چې په شرقي عرفان او حکمت او غربي فلسفې او معاصرو علومو په زده کړو کې د ځانګړي استعداد او وړتیا خاوند وو. هغه په هېواد کې د ننه او بهر په نورو رسمي دندو  کې هم پاتې شوی دی. دی په جرمني کې د افغانستان فرهنګي اتشه شو او همالته یې د هګل په فلسفه کې د دوکتورا درجه واخیسته او له هغه وروسته په کابل پوهنتون کې یې د فلسفې درسونو ته دوام ورکاوه. همداسې یې په کاپیسا ولایت کې د والي په توګه دندې تر سره کړې دي. دی د ژوند په وروستیو کلونو کې پاکستان ته ولاړو او په پېښور ښار کې مهاجر شو او پر (۱۳۵۹) لمریز کال کې «د افغان رسنیو مرکز»، چې یو فرهنګي دفتر وو په پېښور کې یې د دغې دفتر بنسټ کېښود او هلته یې خپلو علمي، ادبي، فرهنګي او ملي کارونو او  فعالیتونو ته دوام ورکړ. استاد  پوهاند ډکټور سید بهاؤالدین مجروح ته د فرانسې، سویس، انګلستان، امریکا او د نړۍ ډېرو لویو پوهنتونونو او اکادمیکو مرکزونو د استادۍ وړاندیزونه وکړل، خو مجروح صاحب یو هم ونه مانه او خپل ژوند ته یې په پېښور کې دوام ورکړ.

استاد پوهاند ډاکتر سید بهاؤالدین مجروح د خپل ژوند په اوږدو کې ګڼ‌شمېر، مهم او ارزښتناک نښیرونه(اثار) کښلي او هم یې ژباړلې دي او په لسګونو علمي، سیاسي، فلسفي او ادبي مقالې او رسالې یې د افغانستان په مطبوعاتو کې چاپ شوې دي. د ده مهم او ګڼ‌شمېر نښیرونه(اثار) دا دي: «ځانځاني ښامار- په شعر- پښتو ، اول او دویم دفتر»، «اژدهای خودي شپږ ټوکه نثر دري»، «د جبر او اختیار دیالکتیک»، «نا اشنا سندرې»، «اجتماعي احساس الفرد ادلر په نظر کې- روانشناسۍ کې د ماسترۍ تیزېس»، «د ځان تربیه زموږ په روانشناسۍ کې»، «دشمن را بشناسید»، «صوفي او نوې دنیا»، «زردشت ووییل داسې»، «پیام صوفي بت شکن به بت پرستانې قرن ۲۰»، «بودا چنین ګفت»، «سید جمال الدین و برخورد شرق و غرب» او «منازل السایرین یا صد میدان حکیم سنایي».

کله چې  استاد پوهاند مجروح په پېښور کې کډوال وو او خپل فرهنګي کارونه یې مخ ته بېول نو په دې وخت کې د سخت دریځو مجاهدینو او د پاکستان د څارګرې ادارې «آی اس آی» تر لید او نظر لاندې وو. د ده فرهنګي کارونه چې د کډوالو مهاجرو په منځ کې د یوې ملي روحیې پیاوړتیا وه، د پاکستان د استخباراتي کړیو په وړاندې یو لوی ګواښ وو، چې هغوی هېڅکله نه غوښتل په پېښور کې مېشت افغانان د ملي روحیې او هېوادپالنې له ارزښتونو برخمن شي. په دې ترڅ کې هغوی د نورو جهادي تروریستي کړیو سره یو ځای د سید بهاؤالدین مجروح په وړاندې پلان جوړ کړ او د فبرورۍ میاشتې په(۱۱)مه، پر(۱۹۸۸)ز کال د جمعې په شپه کله چې دی په پېښور کې له خپل دفتر نه راووات د وسله والو لخوا وویشتل شو او هماغلته ځای پر ځای په شهادت ورسېد.

**دلته تاسو ته د استاد پوهاند ډوکټور سید بهاؤالدین مجروح  ژورې خبرې او وجیزې وړاندې کوم:**

- که انسان خپل روح ونه پېژني، نو هغه به د بل هر څه له پېژندلو بې برخې وي.

انسان که د خپل درون، حقیقت او وجودي ارزښت ته متوجه نشي، نو د بهرني نړۍ د درک او پېژندلو توان به هم ونه لري.

- ازادي یوازې هغه څوک درک کولای شي، چې بندي شوی وي.

واقعي ازادي هغه څوک حس کولای شي، چې د استبداد، ظلم او جبر تجربه یې کړې وي.

- تر ټولو لوی زندان، د انسان خپل ځان ته جوړ شوی زندان دی.

انسان ډېر ځله د خپلو محدودو افکارو، وېرې، او تقلیدي باورونو بندیوان وي.

- د روښانه فکر خاوندان تل د هغو خلکو له خوا وژل شوي، چې د هغوی د فکر له روښنایۍ څخه وېرېدلي دي.

د تاریخ په اوږدو کې آزاد فکر کوونکي او روڼاندي د مستبدینو، ظالمانو او د جهل د پیروانو له خوا وژل شوي دي.

- که ته غواړې یو ملت تباه کړې، نو فکر مه پرېږده چې خپل حقیقت وپېژني.

کله چې یو ملت له خپل تاریخي، فرهنګي او فکري هویت څخه بېخبره پاتې شي، نو استثمار او غلامۍ ته چمتو کېږي.

- حقیقي بغاوت هغه دی، چې له انسان دننه پیل شي.

واقعي بدلون او پاڅون د انسان له درون څخه پیلېږي، او که څوک غواړي د ظلم پر وړاندې ودرېږي، باید له خپل فکره یې پیل کړي.

- د جهل توره د استبداد پیاوړی ځواک دی.

استبداد تل د ناپوهۍ له لارې دوام مومي، او جابر واکمنان هڅه کوي، چې خلک ناپوه وساتي، څو د هغوی پر ضد ونه درېږي.

- حقیقي فلسفه، د انسان د خلاصون او ازادۍ فلسفه ده.

فلسفه باید د انسان د فکري او عملي ازادۍ لپاره وکارول شي، نه د هغه د بندي کولو لپاره.

- زه له هغو خلکو ډارېږم، چې د حقیقت دعوه کوي، خو د فکر دروازې تړلې ساتي.

هغه خلک چې ځانونه د مطلق حقیقت مالکین ګڼي، خو بحث، منطق او آزاد تفکر نه مني، تر ټولو خطرناک دي.

- انسان هغه وخت آزادېږي، چې له خپل ځان سره صادق شي.

که یو فرد د خپلو فکرونو، احساساتو او نیتونو په وړاندې رښتینی وي، نو حقیقي ازادي به احساس کړي.

***

**په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادرمسعود**